2015-11-01

Barn- och fritidsprogrammet



PASHTO

# د کوچنیانو پاملرنې او ساعت تیرۍ پروګرام

Skolverket    Utbildningsinfo

**د کوچنیانو پاملرنې او ساعت تیرۍ پروګرام د حرفوي پروګرامونو د جملې څخه دی چې د حرفوي زده کړو بری لیک ترلاسه کولو لپاره زمینه برابروي.**

د کوچنیانو پاملرنې او ساعت تیرۍ پروګرام د هغه خلکو لپاره ترتیب شوی څوک چې د ماشومانو، ځوانانو او لویانو پاملرنې په برخه کې کار کولو سره لیوالتیا لري. تاسو به د بېلابېلو عمرونو او د بېلابېلو شرایطو سره مخامخ انسانانو په اړه پوهه ترلاسه کړئ.

تاسو کولی شئ چې د دې پروګرام څخه د فراغت سمدستي وروسته کار پیل کړئ یا په حرفوي پوهنتون کې لوړې زده کړې سر ته ورسوئ. همدا راز تاسو فرصت لرئ چې په پوهنتون کې تحصیل کولو لپاره کورسونه هم غوره کړئ.

## درې بېلابېلې څانګې

### ساعت تیرۍ او روغتیا

- تاسې به د ساعتیرۍ، روغتیا او بدني روزنې په اړه پوهه ترلاسه کړئ. دا څانګه تاسو ته د لمبا حوضونو\د سپورت لوبغالو کارکوونکي، د سپورت او ساعتیرۍ په تاسیساتو کې د کارکوونکي او یا د شخصي تمرین ورکوونکي په حیث د کار کولو امکانات برابروي.

### روزنیزه دنده

- تاسو به د ماشومانو او د ځوانانو د زده کړې او ودې په اړه پوهه ترلاسه کړئ. نوموړې څانګه تاسو ته د بیلګې په توګه د ماشومانو پالونکي یا د زده کونکو مربي په حیث د کار پیدا کولو زمینه برابروي.

### ټولنیزه دنده

- تاسو به دا زده کړئ چې د بیلابیلو شرایطو سره مخامخ خلکو سره په کوم ډول سلوک وکړئ او په کوم ډول د دا راز خلکو غوره ملاتړ او خدمت وکړئ. دا څانګه تاسو ته زمینه برابروي چې د بېلګې په توګه د پهره دار، شخصي مرستندوی او یا معیوبیت ورپېښ خلکو لپاره د خدمت ګار یا مرستندوی په حیث کار وکړئ.

### تاسو په دې پروګرام کې لاندې مهارتونه ترلاسه کولی شئ

تاسو به د انسانو د زده کړې او ودې، اوره په اوره کار او اړیکو په اړه پوهه ترلاسه کړئ. تاسو به د نورو خلکو سره د ښه سلوک کولو تمرین وکړئ او د خلکو اړتیاوې په پام کې نیولو خپل ظرفیت ته به وده ورکړئ. تاسو به په دې اړه ژور فکر وکړئ چې انسانان څرنګه په ګډه ژوند کوي او د پرمختګ کوم ډول امکاناتو ته لاسرسی لري. تاسې به د روغتیا او کاري چاپېریال په اړه پوهه ترلاسه کړئ.

په نوموړي پروګرام کې اخلاقو، د ولسواکۍ معیارونو او بشري حقونو ته خورا ډېره توجه او پام ګرځول کېږي.

## نوموړی پروګرام په لاندې ډول ترتیب شوی دی

په حرفوي پروګرامونو کې د ثانوي دورې دا عمومي مضمونونه شامل دي: انګلیسي، تاریخ، بدني روزنه او روغتیا، ریاضي، طبیعي علوم، دیني علوم، ټولنیز علوم، او سویډني ژبه یا سویډني د باندنۍ ژبې په حیث. په حرفوي پروګرامونو کې زیاتره حرفوي مضمونونه لوستل کېږي چې د پروګرام ځانګړي مضمونونه په نوم یادېږي خو د هغو مضمونونو د جملې څخه چې وړاندې مو په ابتدائیه ښوونځي کې لوستلي وي، یواځې ځینې مضمونونه لوستل کېږي.

د پروګرام عمومي ځانګړي مضامین په دې ډول دي: روغتیا، ساینس، روزنه، ټولنیزي پوهې او سویډني او یا سویډني د دوهمې ژبې په څې.

تاسو به فرصت ولرئ چې د خپلې خوښې پروګرام کې تخصص او ژوره پوهه ترلاسه کړئ. دا مرحله د پروګرام اختصاصي مضمونونو په نوم یادېږي. د مربوطه ښوونځي سره اړیکه ونیسئ چې د اختصاصي مضمونونو لپاره کوم مضمونونه وړاندې کوي.

تاسو اختیاري مضمونونه هم لرئ چې له دې لارې د خپلې خوښې مضمون لوستلی شئ. د ښوونځي څخه پوښتنه وکړئ چې کوم کورسونه لري.

## عملي کړنلارې

ستاسو د زده کړې په مراحلو کې به داسې دندې شاملې وي چې تاسو به ورته په مستقل ډول او یا د نورو محصلینو سره په ګډه د حل لاره پیدا کوئ. تاسو به خپل د نوښت او خلاقیت ظرفیت لاپسې پیاوړی کړئ او د یو شرکت چارې پرمخ بیول به هم ستاسې د زده کړې یوه برخه وي. تاسې به د کار لپاره د پلان نیولو، پلې کولو او اسناد تنظیمولو په برخه کې تمرین وکړئ.

## د ثانوي دورې پایلیک

تاسو به د کوچنیانو پاملرنې او ساعت تیرۍ پروګرام په پای کې په خپله خوښه شوي حرفوي ځانګه کې د ثانوي دورې پایلیک لیکئ. چې په دې توګه به د دې ثابتولو فرصت ولرئ چې آیا تاسو ټول هغه مهارتونه ترلاسه کړي دي چې په خپله غوره شوي حرفه کې په کار بوختېدو کې به ورته ضرورت ولرئ.

## د کار په ځای کې عملي زده کړه

د دې پروګرام یو څه برخې د کار یو واقعي ځای کې په عملي بڼه ترسره کېږي چې موده به یې لږ تر لږه ۱۵ اونۍ وي او دا دوره د کار په ځای کې د عملي زده کړې (APL) په نوم یادېږي. دا د نوموړي پروګرام یوه اړینه برخه ده. تاسو به د عملي زده کړې په بهیر کې تجربه او د خلکو سره اړیکې پیدا کړئ چې د کار پسې ګرځېدو په وخت کې به ترې ګټه پورته کړئ.

## تربیوي زده کړه

که چیرې ښوونځی ستاسو په پروګرام کې تربیوي زده کړې وړاندې کوي نو تاسو کولی شئ چې ګټه ترې پورته کړئ . دا په دې مانا ده چې تاسو به هماغه پوهه ترلاسه کوئ خو د خپلې روزنې لږ تر لږه نیمه برخه به په یو یا د کار په ګڼ شمېر ځایونو کې ترسره کوئ.

## د پام وړ

که چیرې تاسو د لوړو زده کړو شرایط پوره کول غواړئ نو اړینه ده چې مخکې له مخکې د خپلو زده کړو لپاره یو پلان جوړ کړئ. د اختیاري مضمونونو او د اختصاصي مضمونونو په چوکاټ کې کولی شئ چې هغه کورسونه ولولئ چې د لوړو زده کړو اساسي شرایط پوره کولو لپاره ضروري ګڼل کېږي، خو په دې شرط چې مربوطه ښوونځی په دا ډول اختصاصي مضمونونو کې تدریس ولري. دا راز کورسونه د سویډني ژبې یا سویډني د باندنۍ ژبې په حیث

## د کوچنیانو پاملرنې او ساعت تیرۍ پروګرام

په مضمونونو کې د یو کورس او په انګلیسي ژبه کې د یو کورس څخه عبارت وي. که چیرې تاسو غواړئ چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړئ نو د زده کړو او مسلکي لارښود مسئول سره خپلې اړیکې ټینګې کړئ.

تاسو تل حق لرئ چې د بدني روزنې او روغتیا او د هنري کورسونو د جملې څخه یو کورس د اختیاري مضمون په توګه هم خوښ کړئ.